همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د بلخ ولایت یو میلیون تنه اوسیدونکي د ثبت او راجستر د خدمتونو د سمون څخه ګټه پورته کوي

د بلخ د والایتي احوال او نفوس د ثبت مشر، ښاغلي محب الله قریشي وویل، "د دې ظرفیت د لوړولو پروژه د بلخ په ولایت کې د خلکو لپاره غوره خدمتونه وړاندې کولو کی مونږ سره مرسته کوي. زه غواړم د آلمان د ملاتړ لپاره مننه وکړم". د افغانستان لپاره د آلمان قونسل ډاکټر رابرټ کلینک، وویل: "دا د افغان ـ آلمان د همکاری خورا لوی بریالیتوب دی چې د پام وړ اړتیاووې په نښه کوي او پروژې پلی کیږي."

نوموړې ریاست په بلخ کې د ښاریانو دپاره اساسي خدمتونه لکه د تذکرو، د زیږیدنې او مړینې د تصدیقونو صادرول، تصدیقول او نوې کول، او د بهرنیو اتباعو ثبتول ترسره کوي او د ورځې د ۷۰۰ نه زیات غوښتنلیکونه اجرا کوي. پخوا نوموړي ریاست د دغو دندو د ترسره کولو او ځائیزو اوسیدونکو ته د خدمتونو د عرضه کولو په لاره کې ستونزې درلودې لکه د تسهیلاتو نابسیا، د تجهیزاتو ناسموالی او نشتون او نور چې په پایله کې د ثبت او راجستر خدمتونه اغیزمن نه وو.

د همدې امله د افغان–المان د همکاری پروګرام د نوموړي ریاست دپاره اړین تجهیزات برابرکړل او یو ډیجیټال ډیټابیس یې منځته راووړ. د پورته تجهیزاتو څخه د سمې ګټې اخیستنې په موخه، نوموړي پروګرام د بلخ ولایت د احوال او نفوسو د ثبت د ریاست د کارکوونکو لپاره د روزنیزو ورکشاپونو او د لارښوونې د سیمینارونو په جوړولو کې مرسته وکړه. د ثبت او راجستر قانون، د هویت د سندونو د صادرولو د څرنګوالي په باب لارښودنې، د یوه آرشیف په توګه د ډیجیټال ډیټابیس کارول، او د افغانستان په اداره کې د اخلاقو او سلوکو قواعد د هغو موضوعګانو له ډلې څخه وو چې وربانديې په نوموړو سیمینارونو کې خبرې اترې وشوې.

مراجعین هم اوس پوهیدلای شي چې کوم کاغذونه چمتو کړي او له ځانه سره یې د احوال او نفوسو د ثبت اداړې ته راوړي او دا چې د هغوی په اړه به کومه کړنلاره وکارول شي. اوس ټول اړین معلومات په عامه بورډونو کې خپرول کیږي.

*د ۲۰۱۰ کال راهیسې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا فدرال وزارت (BMZ) په استازیتوب د سیمه ایز ظرفیت د پراختیا (RCD) پروګرام پلی کوي. د دې پروګرام موخه داده چې افغان ولایتی او ولسوالی ادارو ته توان ورکړی چې اداري دندې په خپلواکه توګه ترسره کړي او د خلکو دپاره عامه خدمتونه په بسیا توګه برابرکړي. په دې توګه، دغه پروګرام تر اوسه پورې د عامه خدمتونو کارکوونکو، حکومتي مامورینو او د ولایتي شورا د غړو په شمول لرترلره ۳۹,۰۰۰ کسانو ته د ۷۳۰ نه زیات مسلکي او د دندې په اړه روزنیز کورسونه جوړ کړي دي. نوموړي پروګرام په ځائیزو اداري ارګانونو باندې د خلکو د باورتیا د زیاتولو په موخه د محلي حکومت د کړنو په باب د عامه پوهاوي ۳۴۵ غونډې جوړې کړې دي چې له هغو نه په ټولیزه توګه لږترلږه ۵۰,۰۰۰ تنو ښاریانو ګټه پورته کړې ده.*

Teaser text:
اوس به د نوموړي ریاست ۷۵ تنه کارکوونکي د احوال او نفوس د ثبت په پیر ښه دفتر کې د دندې د ترسره کولو او د خپلو نویو مهارتونو د کارولو څخه خوند وړي چې د بلخ په ولایت کې د ثبت او راجستر د خدمتونو عرضه کول به لااغیزمن کړي. د افغان–المان د همکاری د سیمه ایز ظرفیت (RCD) د پراختیا پروګرام د دې پروژې څخه د ۳,۸ میلیونو افغانیو په تولیز لګښت ملاتړ وکړ.
تقدمونه:
ښه حکومتوالي
Province:
بلخ
Downloads:
خبرپاڼه ـ د بلخ ولایت یو میلیون تنه اوسیدونکي د ثبت او راجستر د خدمتونو د سمون څخه ګټه پورته کوي ـ پښتو
Image:

Bundesministerium für wirtschaftliche Zusammenarbeit und Entwicklung

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

221117_Pic_Improved_Registration_Services_2
Subtitle:
نن د بلخ ولایت د احوال او نفوسو د ثبت ریاست خپل د نوي اداري ماڼۍ پرانیستل او د ظرفیت جوړولو او دیجیتال کولو د پروژې بشپړیدل د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ونمانځل
د خبر پول:
Press release

01.09.1396

- English
- Deutsch
- دری